از طرف مردم امریکا
د امریکا د ولس لخوا




# د افغانستان د کرهنې او اقتصادي ودې معلوماتي پاڼه

## مخینه

د ملګري ملتونو سازمان (UN) د معلوماتو له مخې، ۹۷ سلنه افغانان په بې وزلۍ کې ژوند کوي، له ۲۸ میلیونو څخه زیات یې د ژوندي پاتې کیدو دپاره بشرپالو مرستو ته اړتیا لري، او ۶ میلیون یې د قحطۍ په څنډه کې دي. د ۲۰۲۱م کال په اګست میاشت کې د طالبانو لخوا د افغانستان تر نیولو وروسته، افغانان په عملي بڼه سوداګریزو پورونو ته لاسرسی نه لري، ډیری کاروبارونه تړل کیدو ته اړ شوي، او ډیری افغانانو، په ځانګړي ډول ښځو دخپلې عاید دوامداره سرچینې له لاسه ورکړې دي. دغه وضعیت د افغانستان پر اقتصاد سخته اغیزه کړې او په نا انډوله توګه یې هغې افغانې میرمنې اغیزمنې کړې چې طالبانو هم ځپلې دي. د ملګري ملتونو د راپور پر بنسټ، د طالبانو لخوا د ښځو پر کار کولو بندیز د افغانستان اقتصاد ته شاوخوا د ۱ بیلیون امریکایي ډالرو په اندازه زیان رسولی دی. د دې په پام کې نیولو سره چې د افغانستان اکثره خلک دخپل ژوندانه د لګښت د برابرولو دپاره له ستونزو سره مخ دي، د وچکالي په څیر هر ډول بل فشار، د شته اقتصادي ناورین ترڅنګ، د خلکو توان دخپلو کورنیو او ټولنو معیشت په تأمینولو کې له ګواښ سره مخامخ کوي. په دې مینځ کې، کروندګر ډیر زیات زیان منونکي دي.

## زموږ لومړیتوبونه او زموږ د فعالیتونو اغیز

د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) افغان میرمنو او نجونو ته په خپلو ټولو پراختیایي پروګرامونو او په ځانګړې ډول دخپلو کرنیزو او د اقتصادي ودې په پروګرامونو کې لومړیتوب ورکړی دی. څرنګه چې کرهنه د افغانستان د اقتصاد بنسټیزه ستنه بلل کیږي، موږ په دې هیواد کې د خوړو خوندیتوب او د تغذیې د ښه والي، د داخلي تولیداتو د زیات والي، د کورنیو د مالي وضعیت د ودې، او کروندګرو ته د دوی د ټولنو د معیشت د تأمینولو لپاره د پوهې، روزنې او لازم اسبابو د چمتو کولو په برخه کې کار کوو. موږ همداراز د غنمو، لوبیا، میوو او سبو په څیر محصولاتو د کرلو د زیات والي څخه ملاتړ کوو.  د دې ترڅنګ، موږ د حیواني خواړه او کرنیزو تخمونو په څیر سرچینو د برابرولو له لارې هڅه کوو ترڅو کروندګرو لپاره د مالدارۍ او لبنیاتو سکتورونه لا اغیزمن او ګټور کړو. د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د کرهنې سکتور ور هاخوا هم د افغانانو له معیشت څخه ملاتړ کوي او په دې توګه لا ډیرو افغانانو ته رسیدنه کوي. موږ د غالیو، کشمیرې، زعفرانو او جواهراتو په سکتورونو کې چې ډیری ښځې په دنده ګماري اقتصادي وده هڅوو. موږ په ورته حال کې افغان سوداګریو لپاره لازمې پانګې چمتو کوو ترڅو هغوی وتوانیږي

خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، تکړه کارکوونکي راجذب کړي او دخپلو کارکوونکو معاش ورکړي. موږ همدارنګه افغان سوداګرۍ له کارکوونکو، په ځانګړې ډول ښځینه کارکوونکو سره نښلوو ترڅو لا زیات افغانان وکولی شي عاید ولري.

## کرهنه

د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د افغانستان له خلکو سره د خوړو خوندیتوب او د لا ژور بشري ناورین د مخنیوي په موخه مرسته کوي. یاده اداره دا کار د ښځو تر مشرۍ لاندې کورنیو، شپنو او کوچني کروندګرو په ګډون د کروندګرو او دهغوی کورنیو لپاره د پوهې، روزنو او لازمو اسبابو د چمتو کولو له لارې ترسره کوي ترڅو دوی وکولی شي د اقتصادي رکود پر وړاندې ودریږي او خپلو کورنیو ته ډوډۍ پیدا کړي. د امریکا د نړیوال پرمختګ ادارې (USAID) په مرسته، کروندګر د میوو باغونه جوړوي، کرنیزې روزنې ترلاسه کوي، او داسې شنې خونې جوړوي چې د ژمي په ساړه میاشتو کې هم د کرنې د موسم پایښت تضمینوي. د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې د کروندګرو د مقاومت د تأمینولو په موخه، د اوبو د بندونو، د اوبو لګولو سیستمونو او د زرګونو مترو په اوږدو کې د کانالونو بیارغونه د کروندګو مځکو د خړوبولو لپاره تمویلوي. د تخمونو او نوي کیمیاوي سرې په کارولو سره، افغان کروندګر ورځ تر بلې د پالکو، پیاز او شلغم په شان د خورا زیاتو خوراکي محصولاتو د کرنې په لور ګام پورته کوي او خپل عاید زیاتوي. تمه کیږي چې ښځینه کروندګر به د هغو تخمونو او کیمیاوي سرې په مټ چې په ۲۰۲۲م کال کې یې ترلاسه کړي تر ۱۲۰۰۰ متریک ټُنو پورې سابه راټول کړي.

## اقتصادي وده

د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) له افغان کاروبارونو سره مرسته کوي چې تکړه او د اړتیا وړ کارکوونکي پیدا کړي، او د اړتیا وړ مالي پورونو ته لاسرسي ومومي، او همدارنګ له ښځو سره مرسته کوي چې مانادراه کار پیدا کړي او معیشت ترلاسه کړي. موږ په ټول هیواد کې افغانانو دپاره د غالیو، جواهراتو، کشمېرې او د زعفرانو په سکتورونو کې د کاري زده کړې زمینه رامنځته کړې او له دې طریقه له افغان کاروبارونو سره مرسته کوو ترڅو تکړه او د اړتیا وړ کارکوونکي ومومي، او له کارکوونکو سره مرسته کوو ترڅو خپل مهارتونه د مارکیټ د اړتیا سره سم پیاوړي کړي. د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) همدا شان افغان کاروبارونه له تولید کوونکو او پروسس کوونکو سره یو ځای کوي ترڅو سوداګریز تړونونه سره وتړي، اوږدمهال شراکتونه سره رامینځته کړي او دخپل هیواد په اقتصادي وده کې ونډه واخلي.

## کلیدي پایلې

- د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) په ۲۰۲۲م کال کې د افغان کاروبارونو لپاره د ۱.۹ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت د جاري پانګو د مخکیني تادیې زمینه برابره کړې او په دې توګه یې دوی بانډې د نغدو پیسو د کمښت د اوسني ناورین د ځینو منفي اغیزو مخه نیولې ده.
- د ۲۰۱۹م کال راپدیخوا، د غالیو او جواهراتو له کاروبارونو سره د امریکا د نړیوال پرمختګ ادارې (USAID) مرستې افغان میرمنو لپاره د کار په ځای او په کور کې شاوخوا ۱۹۰۰۰ دندې رامینځته کړې دي.
- تیر کال، د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) افغان کروندګرو بانډې د وچکالي پر وړاندې مقاومت لرونکي د سویابین ۵۲ متریک ټُ‌نه تخمونه وویشل. د سویابین د تخمونو دغه اندازه شاوخوا د اتو افریقایي فیلونو له وزن سره مساوي ده.
- د امریکا د نړیوال پرمختګ ادارې (USAID) د کار په بدل کې د خواړه له پروګرام څخه په مننې سره، د ۲۰۲۳م کال تر مارچ میاشتې پورې، ۱۰۰۰۰ افغانانو د اوبو لګولو د سیستمونو په بیارغولو کې د کار په بدل کې خوراکي کڅوړې ترلاسه کړې دي.
- د امریکا د نړیوال پرمختګ اداره (USAID) دخپل کاري زده کړو په پروګرام کې د ۲۰۰۰۰ افغانانو د ګمارلو له هدف څخه زیات پرمختګ کړی او د ۲۰۲۲ م کال د اپریل میاشتې راپدیخوا یې ټول ټال ۲۰۱۸۵ افغانان د کارې زده کړې لپاره په ۲۲۲ کاروبارونو کې ګمارلي دي.